# معارف

هفته نامه اوونيزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسيس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش     شماره مسلسل (۲۸۱) ماه محرم الحرام ۱۴۴۶ هـ ق مطابق سرطان ۱۴۰۳ هـ ش


زده کړه د معرفت او پېژند ګلوۍ سرچينه ده.

## د دعوت ارشاد او کابل ښار پوهنې رياستونو له لوري د امارت پېژندنې تر نامه لاندې سيالۍ ترسره کېږي

په پام کې ده چې ډېر ژر به د افغانستان.ا.ا. پوهنې وزارت د دعوت ارشاد او کابل ښار د پوهنې رياستونو له لوري د زده کوونکو د علمي کچې لوړولو، د مطالعې دودولو او د ځوانانو لأپوهاوي په موخه، د کابل ښار حبيبيه، محراب الدين، غازي ادې او غازي عبدالله عالي لېسو د زرګونو زده کوونکو ترمنځ د امارت پېژندنې تر نامه لاندې سيالۍ په لاره واچول شي چې تر دې دمه د يادو سياليو لپاره ۵۰۰۰ تنو زده‌کوونکو په ډېره لېوالتيا سره نوملیکنه کړې او لاهم د نورو زده کوونکو د نوملیکنې لړۍ روانه ده.

د پوهنې وزارت د مسؤلينو ۲مخ

## ديدار سرپرست وزارت معارف از ليسه عالی امانی شهر کابل




محترم الحاج مولوی حبيب الله آغا سرپرست وزارت معارف و تيم همراه شان به سلسله ديدار های شان از مدارس و مکاتب کشور، اين بار غرض ملاقات و ديدار حضوری صفحه۲

## در تشکيل ليسه عالی حبيبيه استادان ورزيده گماشته شده و شاگردان در فضای امن مصروف فراگيری آموزش هستند

ليسه عالی حبيبيه اولين مکتب عصری در کشور بوده که در سال ۱۲۸۲ هـ ش مطابق ۱۹۰۳ ميلادی درزمان سلطنت اميرحبيب‌الله خان در باغ مهمان خانه ولايت کابل تأسيس شد و به نام امير حبيب الله نامگذاری گرديد.
با آغاز فعاليت اين ليسه بنابر درخواست اميرحبيب الله خان چند تن استادان از کشور هندوستان به هدف پيشبرد تدريس به شاگردان اين ليسه دعوت شدند. اولين مدير اين مکتب حافظ احمدالدين خان از کشور هند بود. در نخستين سال تأسيس اين مکتب شماری شاگردان اين ليسه به ۴۰۰ تن ميرسيد که نسبت کمبود مکان مناسب اين مکتب به قصر شهرآرا انتقال داده شد ... صفحه۲

### سرليکنه

## ښوونيز نظام دودې او پرمختګ په درشل کې

په دې کې شک نشته چې د هر هېواد پرمختګ او سوکالي د هغه هېواد د پياوړي ښوونيز نظام سره نېغ په نېغه اړيکه لري، هغه هېوادونه چې د خلکو په مټ او د چارواکو په ځانګړې پاملرنه د خپل ښوونيز نظام لپاره شپه او ورځ کار کوي او پدې برخه کې زيار باسي، نن د نړۍ د پرمخ تللو هېوادونو په کتار کې ولاړ دي او وګړي يې هوسا ژوند لري.
له نېکه مرغه چې په هېواد کې د اسلامي امارت تر بيا واکمنېدو را په دېخوا تر بل هر وخت د هېواد د بيارغونې او د زده کړو د ودې په برخه کې بې ساري فرصتونه را منځ ته شوي، هېوادوال مو چې له کلونو را په دېخوا په هېواد کې د سرتاسري سولې تږي وو او د داسې ورځو راتلو هيلې درلودې دا ارمان يې د الله جل جلاله ... ۲مخ

## کابل ښار د ښوونځيو مسئولينو ته روزنيز سيمينار پرانيستل شو

د پوهنې وزارت د کيفيت تضمين معين الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د کابل ښار ۱۶ ګونو ښوونيزو ناحيو اړوندو رسمي او خصوصي ښوونځيو ۱۶۵۰ تنو آمرينو او مسؤلينو ته د ښوونکو، زده‌کوونکو او نورو اړينو معلوماتو اړوند د احصائيې راټولولو مسلکي سيمينار پرانيست.
په ياد سيمينار کې د پوهنې وزارت د کيفيت تضمين معين سربېره، د ياد وزارت يو شمېر مرکزي رئيسانو، د کابل ښار پوهنې رياست چارواکو، د ښوونيزو ناحيو مسؤلينو، د احصائيې او معلوماتو رياست کارپوهانو هم ګډون درلود.



په پيل کې د پوهنې وزارت د کيفيت تضمين معين د ښوونيزو بنسټونو مسئولينو لپاره د همدې ډول سيمينارونو د جوړولو اړتيا او اغېز ته په اشارې سره وويل: د ياد سيمينار اساسي موخې د دقيقې احصائيې په تړاو د ښوونيزو بنسټونو د مسئولينو د کاري وړتياوو لوړول، ګډون والو ته د مسئولينو، استاذانو او زده کوونکو په اړه د معلوماتو راټولولو د نويو طريقو ښودل او آمرينو سره د احصائيې په فارمټونو کې د رامنځته شويو بدلونونو په اړه د نويو معلوماتو شريکول دي.
همدارنګه نومورې د کره احصائيې او معلوماتو ۲مخ

## غزني کې د ۵ بابه ښوونځيو د جوړولو چارې پيل شوې

د غزني ولايت پوهنې رياست د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلې، چې د يو مرستندويه بنسټ په مرسته، د ياد ولايت په ګيرو او اندړ ولسواليو کې د ۵ بابه ښوونځيو لپاره نوې ودانۍ جوړېږي.
ياد ښوونځي چې هر يو به يې ۶ درسي ټولګي او يوه اداري خونه ولري، ټولټيز لګښت يې ۵۳ ميليونه ۵۰۰ زره افغانۍ اټکل شوی دی.
د ياد ولايت پوهنې رئيس الحاج مولوي ميرنصير احمد حسيني، د يادو ښوونځيو د بنسټ ډبرې اېښودلو په غونډه کې، چې په ګيرو ولسوالۍ کې جوړه شوې وه، وويل: د دغو ښوونځيو له ډلې څخه به په دغه ولسوالۍ کې ۳ بابه او اندړو ولسوالۍ کې ۲ بابه ښوونځي جوړ شي چې په رغولو سره به يې شاوخوا ۴۰۰۰ تنو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي چاپېريال برابر شي.
د سيمې خلکو په خپلو ولسواليو کې د ښوونځيو له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې وزارت د مشرتابه له هڅو يې د ملاتړ ترڅنګ، د ښوونيزو آسانتياوو د پراختيا هرکلي وکړ.



## ننګرهار کې د ۴ بابه ښوونځيو د جوړېدو چارې پيل شوې

د ننګرهار ولايت په کوز کنړ او دره نورو ولسواليو کې د ۴ بابه ښوونځيو ودانيو جوړولو چارې، د ۳۹ ميليونه ۶۳۸ زره افغانيو په لګښت، د پوهنې په برخه کې د يو همکار بنسټ په ملاتړ پيل شوې.
د ياد ولايت پوهنې رياست مسئولين وايي: د دغه لېسو له جملې څخه يې «د بډيالي، توکل بابا لېسې» په کوز کونړ او «قلعه شاهي، املې» لېسې په دره نور ولسواليو کې موقعيت لري.
د ياد ولايت مقام د بشري سرچينو رئيس مولوي محمد طاهر جلالي په خپلو خبرو کې وويل: د پوهنې په برخه کې هر مثبت ګام د هېواد پرمختګ ګڼل کېږي او ژمنه يې وکړه، چې د پوهنې وزارت د پلانونو د عملي کولو په لاره کې به هر ډول همکاريو ته دوام ورکړي.
وروسته د ننګرهار پوهنې رئيس مفتي حبيب حضرت حقاني د ياد رياست د کاري راپور د وړاندې کولو په ترڅ کې وويل، چې په تېر کال کې، ياد ... ۲مخ



## در تشکیل لیسه عالی حبیبیه استادان ورزیده ...

و باغ شهرآرا به مکتب داده شد. از اینکه باغ شهر آرا برای مکتب مکان مناسب نبود و ساختمان آن گنجایش شاگردان بیشتر را نداشت این مکتب به جوار صدارت اعظمی امروزه نقل مکان نمود که بعدها به دلیل افزایش شاگردان به ساختمان مکتب صنایع واقع لب دریا باغبان کوچه نقل مکان نمود و تا اخیر سال ۱۳۴۲ در این محل به فعالیت اش ادامه داد.

از این که لیسه حبیبیه اولین مکتبی بود که در آن مضامین ساینس، علوم تجربی و ریاضیات در معارف افغانستان تدریس می شد، از این رو به یک تعمیر مدرن و بزرگ نیاز داشت.

درخواست جای مناسب مکتب در زمان سلطنت امیر حبیب الله خان پذیرفته شد و به تاریخ ۷ ثور ۱۳۲۱ سنگ تهداب ساختمان امروزی این لیسه از سوی امیر حبیب‌الله خان گذاشته شد.

در زمان صدارت سردار محمد داود خان کار ساخت تعمیر این لیسه به وزارت فواید عامه واگذار شد و در سال ۱۳۴۲هـ ش کار ساخت آن تکمیل و به بهره برداری سپرده شد. ساختمان فعلی لیسه حبیبیه به اثر جنگ‌های خانمان سوز داخلی در کشور قسماً تخریب وتمام تجهیزات آن از بین رفت. بعداً به اثر سعی و تلاش سید ناصر عسکرزاده آمر لیسه حبیبیه و توجه وزارت معارف و هدایت حکومت آن وقت کار بازسازی آن توسط کشور هند آغاز و به تاریخ ۱۳۸۴/۶/۶ به پایه اکمال رسیده و به بهره برداری سپرده شد و تمام تجهیزات این مکتب باستانی را نیز کشور هندوستان مساعدت نمود.

انجنیر عصمت الله "ترین" آمر لیسه عالی حبیبیه در گفتگوی ویژه با هفته نامه معارف گفت: در حال حاضر در این لیسه بیشتر از ۱۱۷۰۰ تن شاگردان مصروف فراگیری آموزش می باشند که ۲۲۰۰ تن شاگرد جدیدالشمول امسال به صنوف ابتدایی در این لیسه جذب گردیده است و روند تدریسی آن از سوی ۲۲۸ تن معلم به پیش برده میشود.

آقای ترین در سخنانش افزود: پس از حاکمیت امارت اسلامی در افغانستان و تلاش وزارت معارف برای بهبود کیفیت آموزشی در کشور پیشرفت های چشمگیر در روند آموزش و پرورش در این لیسه به وجود آمده است. از جمله اینکه در گذشته بخش های تجربوی و کار عملی دروس مضامین ساینسی متوقف بود به اثر سعی و تلاش مسئولین این لیسه و همکاری وزارت معارف کار های عملی آغاز و لابراتوار مجهز فعال گردید. همچنان شماری زیادی از استادان ورزیده کدری مطابق به رشته شان در تشکیل این لیسه جذب و گماشته شدند. او همچنان از راه اندازی رقابت های پروژه ساینس و سیرت النبی صلی‌الله علیه وسلم، فعال سازی لابراتوار کمپیوتر لب و ایجاد کتابخانه مجهز را از جمله دستاوردهای عمده شان عنوان میکند که برای رشد استعدادهای شاگردان مؤثر میباشد و با این فعالیت ها برای شاگردان این لیسه زمینه بهتر آموزشی را فراهم نموده است.

او میگوید در حال حاضر روند آموزش و پروش به شکل نورمال به پیشبرده میشود و هیئت رهبری لیسه همواره سعی و تلاش مینماید تا زمینه خوب وبهتر را به آینده سازان کشور فراهم نمایند.

نامبرده از تمامی جوانان به ویژه شاگردان لیسه عالی حبیبیه میخواهد تا همیشه مطالعه نمایند و به آینده کشور خوشبین باشد و از هر گونه تعصب دوری کنند.

باید گفت لیسه جبیبیه از بدوء تأسیس آن تا امروز مانند مشعل فروزان می درخشد و شماری زیادی ازسیاستمداران و شخصیت‌های برجسته و نامدار از این لیسه فارغ گردیده و در سیاست و اجتماع نقش برازنده یی داشتند.

## ښوونیز نظام د ودې ...

په فضل او کرم او د مجاهد ولس د بې دریغه قربانیو په بدل کې پوره شو. له څلورو لسیزو جګړو وروسته چې اوس لله الحمد په افغانستان کې سرتاسري سوله ټینګه شوې او اسلامي نظام په ټول هېواد حاکم دی دا زموږ لپاره تر ټولو ښه او زرین چانس دی چې باید ترې د خپل هېواد د آبادۍ او د هېواد بچیانو په سالمه روزنه کې ګټه پورته کړو. له نېکه مرغه د اسلامي امارت د مشرتابه او د پوهنې وزارت په هڅو د دریو کلونو په اوږدو کې د معارف د ودې او د ښوونیز نظام د پیاوړتیا لپاره دومره کار شوی چې په تېر کې یې ساری نه تر سترګو کېږي . په تېرو دریو کلونو کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې په ځانګړې توګه هغو سیمو کې چې په تېرو کلونو کې هېڅ مدرسه او ښوونځي شتون نه درلود او په سلګونو زره د هېواد بچیان مو د زده کړو له نعمت محروم وو خو د پوهنې وزارت په هڅو او د ولس په پراخ ملاتړ هلته په سلګونو دینې مدرسې او ښوونځي جوړ او د هېوادوالو بچیانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې او دا لړۍ لا هم روانه ده تر هغه چې د هېواد هېڅ برخه د علم او پوهې له نعمت څخه بې برخې پاتې نشي.

د پوهنې وزارت په دې درې کلن مزل کې د هېواد په ښوونیز نظام کې د اصلاحاتو راوستو سربېره د عصري او دیني علومو ودې او د مدرسې او ښوونځي تر منځ واټن په له منځه وړلو کې چې په تېر کې شتون درلود هم د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي او لا هڅه کوي چې د اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د نورو هېوادونو د معارف بریالیو تجربو په کارولو سره خپل ښوونیز نظام لا پیاوړی او د اوسني عصر له غوښتنو سره اعیار کړي.

د معارف له تشکیلاتو څخه د سلګونو خیالي ښوونکو او ښوونځیو حذف چې له تېر نظام څخه په میراث را پاتې وو د هغوی په ځای د آزادۍ سیالۍ له لارې د زرګونو نویو استادانو او دیني عالمانو ګمارنه د پوهنې وزارت یو له مهمو لاسته راوړنو بلل کېږي چې په دې سره په مرکز او ولایتونو کې تر ډېره بریده د ښوونکو د کمبود ستونزه حل شوې او لا هم د مسلکي او متخصصو ښوونکو د ګمارنې لړۍ دوام لري. پوهنې وزارت همداراز په تېرو دریو کلونو کې په لسګونو میلیونه ټوکه درسي کتابونه د هېواد تر لېرې پرتو سیمو رسولي چې د کتابونو د کمبود ستونزه تر ډېره حل شوې.

په مرکز او ولایتونو کې د زده کړو د لا پراختیا په موخه په تېرو درې کلونو کې سلګونو خصوصي ښوونځیو او مدرسو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي او یو زیات شمېر غیر رسمي کلیوالي مدرسې د پوهنې وزارت تر چتر لاندې راغلي او ثبت شوي دي. همدا راز د پوهنې وزارت په اداره کې د تېرو تشکیلاتو د ساتلو سربېره د یو زیات شمېر نویو مسلکي کدرونو ګمارنه هم ددې ښکارندوی ده چې د پوهنې وزارت د ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا او ځواکمنتیا په برخه کې له هېڅ راز هڅو او هاند مخ ندی اړولی... او په لسګونو نور داسې لاسته راوړنې شته چې د ټولو یادول به د درنو لوستونکو تر حوصلې لوړ وي.

ددې بریالي مزل او لاسته راوړنو تر شا د ولس پراخ ملاتړ هم د یادولو دی ځکه د پوهنې وزارت په کمو امکاناتو نشو کولای دومره لویې لاسته راوړنې په یوازې توګه تر لاسه کړي خو عام ولس چې له کلونو را پدېخوا د علم او زده کړې تږی وو او د الله جل جلاله په فضل داسې یو چانس تر لاسه کړ نو په ټول توان د پوهنې وزارت تر شا ودرېد او ددې دروند پېټي د پورته کولو لپاره یې د پوهنې وزارت سره یو ځای اوږه ورکړه، عامو خلکو په تېرو درې کلونو کې په سلګونو هکتاره ځمکه مدرسو او ښوونځیو ته وقف کړه، بډایه هېوادوالو مو د ښوونځیو او مدرسو په جوړولو کې مرسته وکړه او عامو وګړو د خپل توان په اندازه هر اړخیزې مرستې وکړې او لوستي ځوانان دېته چمتو شول چې په رضاکارانه ډول پرته له هېڅ ډول امتیاز په وړیا توګه د خپلو سیمو په ښوونځیو کې تدریس وکړي، دا ټول ددې ښکارندوي کوي چې چارواکي مو د علم او پوهې ودې ته ژمن او ولس مو له دیني او عصري علم سره بې سارې مینه لري چې دا هر څه د هېواد د یوه روښانه او پرمختللي راتلونکي زیری ورکوي.

خو دا هم باید هېر نه کړو چې هېواد کې مو څلورو لسیزو جګړو ټول اساسي بنسټونه زیانمن کړي چې رغولو ته یې ډېر کار او هڅو ته اړتیا ده نو اړینه ده چې وروستی هدف د هېواد سوکالي او پرمختګ دی، په دې مزل کې هېوادوال د پوهنې وزارت سره ملګرتیا ته دوام ورکړي او پرې نه ږدو چې دغې اغزنې دښتې زموږ اراده کمزورې کړي او له خپل هدف مو مخ بلې خواته واړوي. که مو نن له شته فرصت ګټه پورته کړه د هېواد د پرمختګ لپاره مو د ورورۍ په فضا کې یو بل ته لاسونه ورکړل لرې نده چې دا مزل به ډېر را لنډ او په نږدې راتلونکې کې به خپلې موخې ته ورسېږو او د یوه پرمختللي او پر خپل ځان بسیا افغانستان شاهدان به وو.

### د دعوت ارشاد او کابل ښار ...

په وینا دیادې سیالۍ په پای کې به د دغو سیالیو ممتاز زده کوونکي د پوهنې وزارت له لوري د کمپیوټرونو، موبایلونو او نقدو پیسو په ورکولو سره وستایل شي.

د یادونې وړ ده چې په تېرو میاشتو کې هم د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ښوونځیو د زده کوونکو تر منځ ورته سیالۍ تر سره شوې چې په زرګونو زده کوونکو په کې ګډون کړی وو او د هېوادوالو او زده کوونکو لخوا د یادو سیالیو تود هرکلی شوی او دغه ډول سیالۍ یې د دوی د پوهې کچې د لوړولو لپاره مثبت ګام ارزولی.

### دیدار سرپرست وزارت...

با مسئولین و پرسونل لیسه امانی شهر کابل به آن لیسه تشریف بردند.

سرپرست وزارت معارف و هیئت معیتی شان حین ورود به محوطه لیسه مذکور از طرف مسئولین، استادان و شاگردان لیسه یاد شده مورد استقبال گرم قرارگرفتند.

موصوف در دیداری که با پرسونل تدریسی، اداری و شاگردان لیسه امانی داشت، در سخنانش با اشاره به اهمیت آموختن علوم دینی و عصری گفت: بدن انسان به دو نوع غذا ضرورت دارد، یکی خوراکی و دوم غذای روحی که عبارت از علم می‌باشد، بدون شک آموختن علم شما را به خود کفایی می‌رساند که خود کفایی شما باعث می شود تا غیر وابسته بوده و آزاد زندگی کنید زیرا یک روز آزادی از هزار روز غلامی بهتر است.

سرپرست وزارت معارف خطاب به شاگردان گفت: شما معماران و رهبران آینده افغانستان هستید و با اشاره به حدیث مبارک حضرت محمد صلی‌الله علیه وسلم «خَيرُ النّاسِ مَن يَنفَعُ النّاسَ» تصریح کرد: بر شما لازم است تا علم بیاموزید و از فیوضات آن به وطن و ملت خود خدمت کرده و خیر برسانید.

وی از پلان ها و فراهم آوری سهولت های تعلیمی متوازن برای اولاد وطن در سراسر کشور معلومات داده، از مسئولین و استادان خواست تا جوانان را به روحیه اسلامی و خدمت‌گزار به ملت تربیت نمایند.

سپس آمر لیسه مذکور به نمایندگی از سایرین طی سخنانی ضمن خوش آمدید سرپرست وزارت معارف به آن لیسه، از توجه رهبری وزارت معارف و در رأس آن از اهتمام الحاج مولوی حبیب‌الله آغا سرپرست این وزارت به تعلیم و تربیه اولاد وطن،اظهار سپاسگزاری نمود.

متعاقبا سرپرست وزارت معارف از جریان امتحان چهارونیم ماهه شاگردان لیسه متذکره دیدن نمود.

### کابل ښار د ښوونځیو ...

په راتلونکو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې دقیقه احصائیه په پرېکړو کې مهم رول لوبوي او په چارو کې د روڼتیا، د سرچینو د بې ځایه مصرف څخه د مخنیوي او په چارو کې د لاښه پرمختګ لامل ګرځي.

ورپسې د معلوماتو او احصائیې ریاست یو شمېر مسئولینو او کارپوهانو هم د موضوع د اهمیت په اړه یې خپل نظرونه څرګند کړل او له ګډون والو یې وغوښتل، چې د دغه سیمینار له علمي او مسلکي محتوا څخه اعظمي ګټه پورته کړي.

مراسم د تاکل شوې آجنډا سره سم د کارپوهانو له خوا په پریزنټېشنونو سره پیل شول او ټاکل شوې چې دوه ورځې به دوام وکړي.

### ننګرهار کې د ۴ بابه ...

ولایت کې ۲۸ بابه نوي ښوونځي جوړ شوي او د پوهنې وزارت مشرتابه په دې برخه کې خپلو همکاریو ته ژمنه ده.

د یادونې وړ ده چې د سږ کال له بهیر تر دې مهاله د پوهنې وزارت له خوا د خلکو او یو شمېر همکارو بنسټونو په مرسته یو شمېر ښوونځي او مدرسې جوړې شوې چې په دې سره د ننګرهار ولایت په بېلابېلو برخو کې په زرګونو ځایې اوسېدونکو ته د زده‌کړې زمینه برابره شوې او دا لړۍ لا هم دوام لري.

### فاریاب کې د یوه ...

په ورته وخت کې د سیمې اوسېدونکو د سالم ښوونیز چاپېریال رامنځته کولو په برخه کې د پوهنې وزارت په ځانګړې ډول د فاریاب ولایت پوهنې ریاست له هلوځلو د ستاینې ترڅنګ، د دغه ښوونیز بنسټ پر جوړېدو خوښي څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ، چې خپل ماشومان به د ښوونې او روزنې ترلاسه کولو په موخه مدرسو اوښوونځیو ته استوي.

### راز موفقیت من ...

برای رسیدن به اهداف که تعین نموده ام همیشه تلاش میکنم و یگانه راز موفقیت ام داشتن انگیزه به فراگیری آموزش و تشویق و همکاری والدین و استادانم میباشد که توانستم برای رسیدن به اهداف بزرگ خویش بیشتر از پیش دلگرم شوم.

نامبرده می‌افزاید: تنها به خوانش دروس مکتب اکتفا نمی کنم و در اوقات فراغت کتاب های دینی و علوم معاصر به ویژه کتاب‌های داستان و رومان را نیز مطالعه میکنم. او با ورزش علاقه زیاد دارد و ورزش مورد علاقه و پسند او فوتبال میباشد و همیشه در وقت های که فارغ از درس و مطالعه میباشد مشغول این ورزش با دوستانش میباشد.

وی به این باور است که یک شاگرد مدرسه و مکتب زمانی موفق میباشد که سر وقت به مکتب و صنف خود حاضر شود و کارهای خانگی اش را به وقت انجام دهد. همچنان در فعالیت های صنفی سهم فعال داشته باشد و نظم و دسپلین مکتب و مدرسه را رعایت کند و همیشه برای بلند بردن سطح دانش خویش مطالعه نماید.

به گفته وی: هر شاگرد مکتب و مدرسه باید تقسیم اوقات روزمره خود را داشته باشد و برای رسیدن به اهداف اش برنامه‌های خود را مطابق تقسیم اوقات تنظیم نموده و مطابق تقسیم اوقات تعیین شده پیش برود و همچنان یک شاگرد و جوان زمانی موفق شده میتواند که در همه امورات زنده‌گی پابند به مکلفیت‌های دینی خویش باشد و در چوکات دین مبین اسلام فعالیت های اجتماعی خویش را انجام دهد.

عبدالولید به آینده روشن افغانستان امیدوار است و میگوید: از اینکه سرنوشت کشور به دست خود افغان‌ها است از این رو آینده کشور درخشان است. او به رشته طب علاقه‌مندی زیاد دارد و میگوید در آینده میخواهم یک داکتر ورزیده باشم و از طریق مسلک خود مصدر خدمت به هموطنانم شوم.

وی جوانان را نیروی یک کشور میداند و میگوید جوانان نیرو و طاقت یک کشور را تشکیل میدهد از همین خاطر جوانان در تحولات مثبت و رونق بخشیدن به پیشرفت کشور نقش بسزای دارند، جوانان کشور باید درهرگونه شرایط به درس و تعلیم خویش ادامه دهند و خود را با زیور علم و دانش آراسته سازند چون آینده کشور به جوانان وابسته است و کشور ما به جوانان تحصیل یافته نیاز دارد.

او به این باور است که یگانه راهی که میتواند یک کشور را به پیشرفت و ترقی برساند تعلیم و تحصیل است که به گفته ی او در این زمینه کارهای بنیادی صورت گرفته و باید تلاش بیشتر صورت گیرد تا جوانان ما به شکل درست و احسن بتوانند ادامه تحصیل نموده و کشور عزیز مان را به قلعه‌های بلند پیشرفت و ترقی برساند.

او در اخیر به جوانان پیام دارد و میگوید تمامی جوانان باید در زنده گی به خود هدف مشخص تعیین نماید و از نفاق و هرگونه تعصب دوری کند.

## په خپل ځان باوري اوسئ

په ځان د باور نشتوالی هغه احساس دی، چې وخت په وخت زموږ په زړه او فکر کې راپیدا کېږي او موږ ته شک پیدا کوي، چې آیا موږ د خپل کار ترسره کولو ته چمتو یو؟ یا مسؤلیت ته ژمن یو؟
ډېر خلک د دې موضوع د اهمیت سره سره په خپل ځان د باور ښه کولو په اړه فکر نه کوي، چې همدې کار د بشري پراختیا ډیری متخصصین پدې برخه کې څېړنې ته هڅولي دي، چې په دغو متخصصینو کې تر ټولو مخکښ یې ډاکټر ابراهیم الفقي دی.
د بشري پرمختګ کارپوه ډاکتر ابراهیم الفقي په ځان د باور زیاتولو موضوع باندې هر اړخیزه بحث کړی، هغه وایي: په ځان باور د حالاتو سره په مثبت ډول چلند ترلاسه کېږي، نوموړي په ځان د باور زیاتولو لپاره ۱۲ ګامونه په پام کې نیولي، چې موږ یې یو په یو یادونه کوو.
۱: خپل ځان ته مهربانه اوسئ، خپلې تېروتنې د نورو په غاړه مه اچوئ، د قلم او کاغذ څخه د هغه لاملونو د ثبتولو لپاره کار واخلئ، چې د اصلي او فرعي ستونزو د رامنځته کېدو او پراخېدو لامل شوي وي.
۲: د ستونزې سرچینې ته له رسېدو وروسته، د حل په لټه کې شئ، خپل فکرونه تنظیم کړئ، وېره مو کنټرول کړئ او په خپل ځان بېرته باور ترلاسه کړئ.
۳: خپل ځان قانع کړئ؛ هغه جملې تکرار کړئ، چې تاسو بدلون ته هڅوي او له منفي فکرونو څخه ډډه وکړئ.
٤: خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوئ، په یاد ولرئ چې د یو او بل ترمنځ توپیرونه شتون لري، تاسو، چې په کوم شي کې ځانګړي یاست، په همغه تمرکز وکړئ.
٥: تل د مثبتو او ځانګړیو خلکو سره پاتې شئ.
٦: د هرې پریکړې د ګټو او زیانونو لېست جوړ کړئ او موضوع په هر اړخیز ډول وڅېړئ.
۷: د خپل ځان په وړاندې ارامه اوسئ.
۸: له تېرو تجربو زده کړه وکړئ او هم په پخوانیو پرېکړو بیا کتنه وکړئ.
۹: د فکر کولو لپاره وخت ځانګړی کړئ او په ورځ کې نیم ساعت د فکر کولو او پلان جوړولو لپاره وټاکئ.
۱۰: په مثبتو ټکو تمرکز وکړئ او هم د هغو په بیا ځلي پلټلو ځان عادت کړئ.
۱۱: د قرآنکریم لوستل او دعا کول مه هېروئ، ځکه دا انسان زړه ته سکون او ډاډ ورکوي.
۱۲: خپل ظاهر ته پام وکړئ او په دې برخه کې غفلت مه کوئ.

## خیر و شر

در روزگاران قدیم پیرمردی دهاتی بود که یک پسر و یک اسب داشت.
روزی اسب پیرمرد فرار کرد و همه همسایه گان برای دلداری به خانه اش آمدند و گفتند: بسیار بد شانسی آوردی که اسب فرار کرد! پیرمرد در جواب گفت: از کجا میدانید که این از خوش شانسی من بوده یا بدشانسی ام؟
همسایه ها با تعجب گفتند، معلومدار است که این از بدشانسی بوده!
هنوز یک هفته از این ماجرا نگذشته بود که اسب پیرمرد به همراه بیست اسب وحشی به خانه برگشت.
این بار همسایه ها برای تبریکی نزد پیرمرد آمدند و به پیرمرد گفتند: عجب اقبال بلندی داشتی که اسب ات همراه بیست اسب دیگر به خانه برگشت.
پیرمرد بار دیگر گفت: از کجا میدانید که از خوش شانسی من بوده یا از بدشانسی ام؟
فردای آن روز پسر پیرمرد در هنگام اسب سواری در میان اسبهای وحشی از اسب افتاد و پایش شکست. همسایه ها بار دیگر آمدند همه گفتند عجب شانس بدی. پیرمرد گفت: از کجا میدانید که از خوش شانسی من بوده یا از بدشانسی ام؟
چند تا از همسایه ها با عصبانیت گفتند پیرمرد نادان خوب معلوم است که از بد شانسی تو بوده.
چند روز بعد نیروهای دولتی برای سربازگیری از راه رسیدن و تمام جوانان سالم را برای جنگ در سرزمین دور دستی با خود بردند. پسر پیرمرد دهقان بخاطر پای شکسته اش از اعزام معاف شد.
همسایه ها برای تبریکی به خانه پیرمرد آمدند باز هم همان حرف را گفتند ( عجب شانسی آوردی که پسرت معاف شد. پیر مرد همان حرف گذشته را تکرار کرد «از کجا میدانید از خوش شانسی من بوده یا از بد شانسی ام؟».
نتیجه : همیشه زمان ثابت میکند که بسیاری از رویداد ها را که بدبختی و مسایل لاینحل زنده‌گی خود می‌پنداریم صلاح و خیرمان بوده و آن مسایل نعمات و فرصت‌های بوده که زنده‌گی به ما اهدا کرده است.

## د مرغۍ ضمیر

وړه کې مرغۍ اور اخیستي ځنګله ته تله او راتله، یو چا ورته وویل : څه کوې چې ځې او راځې...!
دې وویل: دلته لېرې یوه د اوبو چینه ده، له هغې چینې څخه په مښوکه کې اوبه راوړم په اور یې اچوم. پوښتونکي وویل: اور ډېر لوی دی او تا راوړي څاڅکي ډېر کوچني دي...!
مرغۍ ځواب ورکړ : پوهېږم چې اور ډېر لوی دی خو یو وخت که ضمیر راته ووایي چې کله ځنګل اور اخیستی او ژوندي شیان لولپه کېدل، تا څه وکړل؟ نو زما ځواب به ورته دا وي چې هر څه مې په وس کې وو هغه مې وکړل.

## د بریالیو کسانو شل ځانګړني

۱. دروغ نه وایي.
۲. غرور نه لري.
۳. صمیمي وي.
٤. د درناوي او مننديۍ حس لري.
٥. د هېرولو چل ورځي.
٦. د نورو بریاوو ته ارزښت ورکوي.
۷. د نورو کسانو پرمختګ غواړي.
۸. خپلې نیمګړتیاوې مني.
۹. هره ورځ مطالعه کوي.
۱۰. یادښتونه ساتي.
۱۱. د (څه وکړم؟) لړۍ ساتي.
۱۲. د نظریو په اړه خبرې کوي.
۱۳. مالومات شریکوي.
۱٤. خوښي خرګندوي.
۱٥. موخې ټاکي او د تر لاسه کولو لپاره یې پلان جوړوي.
۱٦. توپیرونو ته غېږ خلاصوي.
۱۷. دوامداره زده کړه کوي.
۱۸. د بدلون لپاره لرلید لري.
۱۹. هیلې ژوندۍ ساتي.

## د خپل ځان لپاره بریالي شئ

**ژباړه: رفیع الله رفیع**

د بریالیتوب او خوښۍ لپاره خپل ځان انتخاب کړئ، تاسو هغه څوک یئ، چې کولای شئ خپل ځان بریالیتوب ته ورسوئ او هم خپل ځانته خوښي ورکړئ، تاسو په خپل ځان کې داسې ظرفیتونه او وړتیاوې لري، چې په کار اچولو سره یې حتماً بریالیتوب ترلاسه کولای شئ، په دې ژباړه کې به په همدې پوه شئ، چې څنګه د خپل ځان لپاره بریالي شی؛ سخته نه ده، بس یوازې دا لس خبرې عملي کړئ.
۱: په ځان باور د بریالیتوب کیلي ده، که تاسو په خپل ځان باور ونه لرئ، نور خلک به هم په تاسو باور ونه کړي.
۲: مثبت فکر لرل په ژوند کې د هر شي د ترلاسه کولو لپاره مهم عنصر دی، په منفي فکر سره هېڅ بریالیتوب نه شئ ترلاسه کولای.
۳: بریالیتوب تصادفي نه دی، بلکې د پلان، سخت کار او استقامت پایله ده.
٤: که تاسو خپل حالات نه شئ بدلولای، نو پر وړاندې یې خپل چلند بدل کړئ.
٥: دوامداره زده کړه د شخصي او مسلکي ودې لاره ده، د زده کړې مخه نیول د ودې مخه نیول دي.
٦: خوښي او بریالیتوب هغه چا ته نه راځي، چې ناست وي او انتظار کوي، بلکې هغه چاته راځي، چې د هغوی لپاره لټون/هڅه او کار کوي.
۷: موخې د بریالیتوب په انجن کې د سون توکي دي، پرته له روښانه اهدافو تاسو هېڅ ځای ته نه شئ رسېدلای.
۸: بریالیتوب په تصمیم سره پیل کېږي، تصمیم ونیسئ، چې بریالي شئ او هم یې د ترسره کولو لپاره اړین ګامونه پورته کړئ.
۹: ښې اړیکې د بریالیتو له کیلیانو څخه دي، ډاډ ترلاسه کړئ چې ښې او مثبتې اړیکې رامنځته کړئ.
۱۰: د کار او ژوند ترمنځ توازن اړین دی، سخت کار مهم دی، مګر د ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره باید حتماً ځای شتون ولري.

## داستان آموزنده

پیرمردی با مرد جوانی مواجه می‌شود که می‌پرسد:
"شما مرا به یاد دارید؟"
پیرمرد می گوید نه. سپس مرد جوان به او می گوید که شاگرد اوست , معلم می پرسد:
"چه کار می کنی، در زندگی چه کار می کنی؟"
جوان پاسخ می‌دهد:
" من معلم هستم."
آه، چقدر خوب، مثل من؟
" بله. در واقع، من معلم شدم زیرا تو به من الهام دادی که شبیه تو باشم.»
پیرمرد با کنجکاوی از مرد جوان می پرسد: که در چه زمانی تصمیم گرفتی، معلم شوی؟ - مرد جوان داستان زیر را برای او تعریف می کند:
«یک روز، یکی از دوستانم، که او هم متعلم بود، با یک ساعت جدید زیبا وارد شد و من تصمیم گرفتم آنرا از جیبش بدزدم.
مدت کوتاهی بعد هم صنفی‌ام متوجه گم شدن ساعتش شد و بلافاصله به معلم ما که شما بودید شکایت کرد.
سپس شما خطاب به همه گفتید: «ساعت این دانشجو امروز در موقع درس دزدیده شده. هر کس دزدیده، لطفاً آن را برگرداند.»
من ساعت را پس ندادم چون نخواستم.
دروازه را بستی و گفتی همه بایستیم و دایره‌یی تشکیل دهیم.
قرار بود یکی یکی جیب های ما را بپالی تا ساعت پیدا شود.
با این حال تو به ما گفتی که چشمان را ببندیم، زیرا فقط در صورتی به دنبال ساعت او می گردی که همه ما چشمان را بسته باشیم.
جیب به جیب رفتی و وقتی در جیب من رسیدی، ساعت را پیدا کردی و گرفتی. بعداً جیب دیگران را هم جست‌وجو کردی و وقتی کارت تمام شد گفتی چشمان تانرا باز کنید. ما ساعت را پیدا کردیم.
تو به من هیچ نگفتی و هیچوقت اشاره هم نکردی. شما هرگز نگفتید چه کسی ساعت را دزدیده است.
آن روز برای همیشه آبروی مرا حفظ کردی. آنروز شرم آور ترین روز زندگی من بود.
اما ان روزی بود که تصمیم گرفتم دزد، و آدم بد نشوم، تو هیچ وقت چیزی نگفتی، حتی مرا سرزنش نکردی و هم درس اخلاقی به من دادی.
پیام انسانی شما را به وضوح دریافت کردم و با تشکر از شما، متوجه شدم که یک مربی واقعی چه کاری باید انجام بدهد.
استاد این واقعه را به خاطر دارید؟
پروفیسور پیر پاسخ داد: بله، ساعت دزدیده شده را به یاد دارم که در جیب همه دنبالش می‌گشتم. من تو را به یاد نیاوردم، زیرا در حین پالیدن من نیز چشمانم را بسته بودم.»
-(اصول آموزش چنین است ) ...
«اگر برای اصلاح کسی را تحقیر کنید. نمی‌دانید چگونه تدریس کنید.»

Newspaper
# Marif
Weekly

**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
معراج «زماني»
محمد ابراهيم «ملهم»
محمد اكرم «وفادار»
محمد نسيم «عياذ»
عبدالصبور «غفراني»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادريس «نوری»
**ډیزاینر :** محمد قسیم «نادم»

**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 281,2024

## فاریاب کې د یوه ښوونځي ودانۍ ورغول شوه



د فاریاب ولایت پوهنې ریاست چارواکو د یاد ولایت ګرزیوان ولسوالۍ اړوند په دره جوز سیمه کې، یو باب ښوونځي لپاره نوې ودانۍ پرانیسته.

د یاد ولایت پوهنې رئیس الحاج مولوي محمد طاهر جواد وایي: د گرزیوان ولسوالۍ دره جوز منځنې ښوونځي ودانۍ چې ٦ درسي ټولګي، یو لابراتوار خونه، احاطوي دېوال، د څښاک پاکو اوبو یو حلقه څاه، ۹۰ پایې مېزونه اوڅوکۍ او نور اړین ملحقات لري، د یو همکار بنسټ په مالي ملاتړ د ٧٦ زره امریکایي ډالرو په لګښت سره رغول شوې ده.

۲مخ

## پکتیکا کې د یوې مدرسې د جومات د جوړېدو چارې روانې دي

د پکتیکا ولایت گومل ولسوالۍ اړوند د ابوهریره (رضی الله عنه) د مدرسې د جومات جوړېدو چارې، چې څه موده وړاندې پیل شوې وې، پنځوس سلنه پرمخ تللې او په بشپړېدو سره به د زده کوونکو او پرسونل لپاره ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یاد جومات لګښت ۸۰۰ زره افغانۍ اټکل شوی، چې د همدغه ولسوالۍ د دینداره اوسېدونکو له خوا راټولې او ورکړل شوې دي.

د مدرسې منسوبینو د دغه جومات په جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په یاد ولایت کې یې د پوهنې وزارت له پروګرامونو څخه خپل ملاتړ څرګند کړ.

د پوهنې وزارت مشرتابه د یاد جومات د جوړولو په برخه کې د هېواد خلکو په ځانګړې توګه د پکتیکا ولایت ګومل ولسوالۍ د اوسېدونکو له ملاتړ څخه مننه کوي.

## راز موفقیت من داشتن انگیزه به آموزش و تشویق استادان میباشد

به سلسله معرفی چهره های برتر و ممتاز معارف کشور این بار گفتگوی مختصری را با عبدالولید فرزند عبدالوحید متعلم صنف یازدهم لیسه عالی حبیبیه در مورد فعالیت‌های روزمره واینکه او چگونه توانسته است از وقت گرانبهای خویش برای فراگیری آموزش استفاده نماید انجام دادیم که با شما شریک میکنیم.

عبدالولید که ۱۸ بهار عمرش را پشت سرگذشتانده و از گل های فصل بهاری عمرش گل‌های ناب چیده و برای رسیدن به اهدافش راه های سبز و چمن زار و گاه گاهی بر دشت های خاردار نیز قدم گذاشته است و در فرجام توانسته است به بیشتر اهدافش که از قبل تعیین نموده بود برسد و برای آینده‌اش نیز امیدوار است که بتواند اهداف بزرگ را که تعیین نموده است با پشت سرگذشتاندن زحمات و تلاش دست یابد.

وی در صنف و مکتب منحیث شاگرد ممتاز با اخلاق و کردار نیکو در بین دوستان و همصنفانش شهرت دارد و با همه گی صمیمی میباشد و استادان او نیز از برخورد صمیمانه و رفتارپسندیده‌اش از او به نیکویی یاد میکنند.

عبدالولید میگوید...

صفحه ۲

## پروان کې د یو باب ښوونځي دبنسټ ډبره کېښودل شوه





د پروان ولایت سرخ پارساه ولسوالۍ اړوند په ترکمن دره کې د دولت خان منځنې ښوونځي د بنسټ ډبره، د یاد ولایت پوهنې رئیس مولوي سید محمد فیضي له لوري کېښودل شوه.

د ښوونځي دغه ودانۍ چې ۱۰ درسي ټولګي به ولري له نورو اړینو ملحقاتو سره په یو پوړ کې جوړېږي.

د یاد ښوونځي د جوړېدو لګښت ۴ میلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې د یادې سیمې د علم پروره خلکو لخوا ورکول کېږي.

د پوهنې وزارت مشرتابه له پوهنیز نظام سره د هېواد د پوهنې مینه والو ملاتړ څخه د هرکلي تر څنګ، د سرخ پارسا ولسوالۍ د علم پروره خلکو له همکاریو مننه او قدرداني کوي.

## بازسازی یک باب لیسه در ولایت پکتیکا



به کمک مالی باشنده گان علم دوست ولسوالی سروبی ولایت پکتیکا لیسه زړه قلعه در آن ولسوالی بازسازی شد. به گفته مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف ولایت یاد شده ساخت ۵ باب صنف درسی٬ احیای سیستم آب آشامیدنی و غیره شامل کار بازسازی می باشد که مبلغ ۳۵۰ هزار افغانی هزینه برداشته است.

نامبرده تصریح کرد که قبلا در این مکتب شش باب صنف درسی وجود داشت که برای شاگردان کافی نبوده و به اثر توجه مردم پنج باب صنف جدید دیگر در محوطه یی این لیسه ساخته شد.

## آغاز ترمیم یک باب مکتب ابتدائیه در ولایت میدان وردگ



کار عملی پروژه بازسازی مکتب ابتدائیه (شهید سبحان الله) در ولسوالی دایمیرداد

ولایت میدان وردگ که شامل ساخت دیوارهای استنادی و احاطوی، حفر چاه آب وغیره ضروریات آن می باشد، آغاز یافت. به گفته مسئولین ریاست معارف ولایت میدان وردگ برای مکتب یاد شده که درمساحت چهار جریب زمین اعمار شده، هزینه پروژه مذکور **مبلغ ۱۰،۵ میلیون افغانی می‌باشد** که از طرف یکی از نهادهای کمک کننده به معارف پرداخت می‌شود.

در مراسم گشایش این پروژه ضمن اشتراک مولوی محمد عثمان حریت رئیس و منسوبین معارف ولایت متذکره، شماری از مسئولین ادارات محلی و علمای کرام نیز حاضر بودند.

**علم و دانش تنها ثروتی است که کسی نمی‌تواند آن را از شما بگیرد.**